مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۵** (از ۱۰ الی ۱۷ حمل ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د افغان سولې په تړاو د بين‌الافغاني خبرو اترو اړتيا

غني څه ډول سوله غواړي؟ ........ ۴

د سولې په اړه د طالبانو دريځ ........ ۵

واشنګټن او افغان سوله ........ ٦

پايله ........ ۷

### نگاهی به وضعیت زنده‌گی مردم در افغانستان

زنده‌گی در افغانستان ........ ۹

فقر چندبُعدی ........ ۹

عوامل وضعیت ناگوار زنده‌گی افغان‌ها ........ ۱۰

نتیجه‌گیری ........ ۱۲

## مقدمه


د افغان سولې په پروسه کې له افغان حکومت سره د طالبانو مخامخ خبرې د دې پروسې یو مهم او اړین اړخ دی؛ خو په اوس‌مهال کې د دې ډول خبرو د پیل په موخه د افغان حکومت او طالبانو دریځونه، د یو بل خلاف دي. د همدې اختلاف د له منځه وړلو په موخه د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی، زلمی خلیلزاد د خپل ماموریت د شپږم سیمه‌ییز سفر په لړ کې کابل ته راغلی او د افغان ولسمشر په ګډون یې له بېلابېلو افغان لورو سره کتلي دي.

له بله اړخه ټاکل شوې چې تر راتلونکو لسو ورځو د افغان سیاستوالو او طالبانو ترمنځ د مسکو ناستې دویمه ناسته هم په قطر کې ترسره شي. دغه‌راز زلمي خلیلزاد هم افغانستان ته د خپل سفر پر مهال تر دې دمه پر دولتي چارواکو سربېره له مختلفو افغان لورو سره د سولې په اړه خبرې کړې دي. په ورته وخت کې ولسمشر غني هم د سولې په تړاو له افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو سره سلا مشورې پیل کړې دي او دا ټول هغه څه دي، چې د بین‌الافغاني خبرو اترو د پیل په تړاو یې هیلې زیاتې کړې دي.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې د افغان سولې په تړاو د امریکا، طالبانو او افغان حکومت پر دریځونو او دا چې څرنګه کېدای شي د بین‌الافغاني خبرو اترو پیل ته زمینه برابره شي، بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه بیا په افغانستان کې د خلکو اقتصادي وضعیت او د فقر کچې ته ځانګړې شوې ده. تازه د افغانستان د احصائیې مرکزي ادارې په یوه راپور کې ویلي، چې په افغانستان کې له ۵۰ سلنه زیات خلک د بې‌وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او دې وضعیت افغانان له سختو ستونزو سره مخ کړي دي.

# د افغان سولې په تړاو د بین‌الافغاني خبرو اترو اړتیا



په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ له پنځمې ناستې را وروسته، ځو ورځې وړاندې زلمی خلیلزاد کابل ته په سفر راغی، ترڅو له افغان سیاستوالو او حکومتي چارواکو سره د سولې په تړاو خبرې وکړي. نوموړي د ولسمشر غني په ګډون له یو شمېر دولتي چارواکو، افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو، افغان مېرمنو، ځوانانو او د مدني ټولنو له استازو سره کتلي او د سولې بهیر په تړاو یې بحثونه کړي دي.

خلیلزاد افغانستان ته د سفر پر مهال له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي: "د افغان سولې په تړاو د روانو خبرو په لومړیو پنځو پړاوونو کې هغه مسایل مطرح شوي، چې په طالبانو او د امریکا په حکومت پورې اړه لري؛ خو له دې هاخوا پر نورو مسایلو هر ډول بحث کې باید افغان حکومت موجود وي، د سولې پر یوه پلان کار وشي او د همدې پلان له مخې لومړی ښکېلې غاړې یوه سیاسي جوړجاړي ته ورسېږي او اوربند اعلان شي."

زلمی خلیلزاد پر بین‌الافغاني خبرو اترو داسې مهال ټینګار کوي، چې له یوې خوا ټاکل شوې د روان زېږدي کال د اپریل په ۱۴مه او ۱۵مه په قطر کې د طالبانو او بېلابېلو افغان لورو ترمنځ د مسکو ناستې پر دوام، دویمه ناسته وشي او له بلې خوا ولسمشر غني هم د پخواني ولسمشر په ګډون له یو شمېر مطرح افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو سره د سولې په تړاو سلا مشورې پیل کړې دي.

د افغان سولې په تړاو د امریکا، افغان حکومت او طالبانو دریځونه او دا چې څنګه کېداشي د سولې په تړاو د افغانانو ترمنځ یو واحد دریځ رامنځته او بین‌الافغاني خبرې پیل شي؟ هغه موضوعات دي، چې دلته یې په اړه بحث شوی دی.

## غني څه ډول سوله غواړي؟

سوله او د روانې جګړې پای ته رسول د ولسمشر غني له مهمو تاکنیزو شعارونه څخه و. ان داسې ګنګوسې هم وې چې ګواکې ولسمشر غني د ټاکنو پر مهال طالبانو او طالبانو ته نږدې کسانو ته ډاډ ورکړی و، چې د امکان تر حده به د امنیتي ترون لاسلیک کول ځنډوي او سولې ته به کار کوي؛ خو ارګ ته تر رسېدو وروسته یې، په ۲۴ ساعتونو کې دننه، د امنیتي تړون په لاسلیک کولو سره د سولې لارې بندې کړې.

که څه هم له امریکا سره د امنیتي تړون له لاسلیکولو وروسته ولسمشر غني د ملي یووالي حکومت پر مهال په مختلفو ډولونو ډېره هڅه وکړه، چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېنوي؛ خو د سولې په تړاو د نوموړي دغه ټولې هڅې د یوې حکومت‌محوره پروسې لپاره وې. یعنې افغان حکومت تل هڅه کړې، چې طالبان هم د حزب اسلامي په شان سولې ته غاړه کېږدي او د یوې ډلې په توګه له افغان حکومت سره یو ځای شي، خو دا هغه څه دي چې طالبانو یې تل مخالفت کړی او له لویه سره یې د ولسمشر غني په مشرۍ حکومت "نامشروع" ګڼلی دی.

په اوس‌مهال کې د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو ترمنځ له روانو خبرو او په بل اړخ کې د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو او مدني ټولنو استازو ترمنځ له پیل شوو خبرو د افغان حکومت ناخوښي او ان مخالفت، دا ښیي چې د سولې په تړاو د ولسمشر غني هڅې د یوې رښتینې او پایداره سولې په پار نه وې، بلکې د نوموړي ټاکنیز سیاست ته په کتلو سره داسې ښکاري چې ولسمشر غني ته په واک کې پاتې کېدل لومړیتوب لري، نه سوله.

## د سولې په اړه د طالبانو دريځ

د سولې په تړاو طالبانو تل له افغان حکومت سره منحيث د حکومت له مخامخ خبرو ډډه کړې او يوازې يې له امريکا سره پر مخامخ خبرو اترو ټينګار کړی دی. که څه هم په لومړيو کې امريکا له دغې ډلې سره د سولې خبرو ته لېواله نه وه؛ خو د جګړې له اوږدېدو او ورځ تر بلې خونړي کېدو سره امريکا هم له دغې ډلې سره د سولې خبرو ته غاړه کېښوده.

د افغان سولې په تړاو د امريکا او طالبانو ترمنځ په روانو خبرو کې طالبانو له لومړي سره، تر هرڅه وړاندې په افغانستان کې د بهرنيانو د حضور په اړه پر خبرو اترو او يوې هوکړې ته پر رسېدو ټينګار کړی دی. که څه هم د دواړو لورو ترمنځ تر دې دمه پنځه ځله مخامخ خبرې شوې دي او د دغو خبرو اترو په لړ کې ډېر کله رسنيو داسې رپوټونه خپاره کړل، چې ګواکې امريکا او طالبانو په افغانستان کې د بهرنيانو د حضور له قضيې ورهاخوا، د بين‌الافغاني خبرو د پيل، اوربند او لنډمهاله حکومت د جوړېدو په تړاو هم خبرې اترې کړې دي؛ خو طالبانو تل دا ډول رپوټونه رد کړي دي.

د سولې په تړاو د طالبانو دريځ دا دی، چې لومړی به له امريکا سره په افغانستان کې د بهرنيانو د حضور د پای ته رسولو په اړه يوې هوکړې ته رسېږي. وروسته به بين‌الافغاني خبرې (د طالبانو او ټولو افغان سياسي ډلو ترمنځ وي، نه دا چې يوازې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ وي) پيلوي.

په دې تړاو په مسکو کې د طالبانو او مختلفو افغان سياستوالو او جهادي مشرانو ګډه ناسته يې لومړنی ګام و. دغه‌راز ټاکل شوې، چې دې ته ورته دويمه ناسته تر راتلونکو لسو ورځو پورې په قطر کې هم وشي. که څه هم دې ډول ناستو د افغان سولې په تړاو هيلې زياتې کړې دي؛ خو په ورته وخت کې بيا له دې ډول ناستو سره د افغان حکومت کلک مخالفت، د سولې په خبرو کې يو ډول بن‌بست او خنډ رامنځته کړی دی.

## واشنګټن او افغان سوله

امریکا د افغانستان د روانې جګړې د یوه اصلي او مهم اړخ په توګه له ۱۷ کلونو وروسته پرېکړه کړې، چې نور له دغې جګړې ځان وباسي، له همدې امله یې نږدې شپږ میاشتې وړاندې له طالبانو سره خبرې پیل کړې.

د افغان جګړې د پای ته رسولو په موخه لومړی پړاو د امریکا ـ طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې وې. د دغو خبرو له پنځمې ناستې را وروسته اوس‌مهال داسې ویل کېږي، چې دواړه لوري په دوو مواردو ـ له افغانستانه د بهرنیو ځواکو وتل او دا چې په راتلونکي کې به د افغانستان خاوره د نورو پر ضد نه کارول کېږي ـ یوې عمومي هوکړې ته سره رسېدلي او د دې هوکړې مسوده به هم د دواړو لورو ترمنځ په راتلونکې (شپږمه) ناسته کې لاسلیک شي.

د افغان سولې په تړاو د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد افغانستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال ویلي چې د امریکا ـ طالبانو ترمنځ په تېرو پنځو ناستو کې هغه مسایل مطرح شوي، چې په طالبانو او امریکا پورې یې تړاو درلود؛ خو له دې وروسته به د سولې په تړاو هر بحث کې د افغان حکومت موجودیت ضرور وي. دغه‌راز نوموړي ویلي، چې ښایي په افغانستان کې د امریکا رول ورو ورو کم شي او افغانان باید ډېر مسؤولیتونه په خپله غاړه واخلي.

د خلیلزاد له دغو څرګندونو ښکاري، چې امریکا له طالبانو سره یوې عمومي هوکړې ته رسېدلې او اوس‌مهال هڅه کوي، چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کېنوي. امریکا غواړي چې د افغانستان په قضیه کې ټول ښکېل افغاني لوري په خپل منځ کې سره کېنوي، ترڅو په راتلونکي کې د واک پر سر له یو بل سره ښکېل نه شي.

## پایله

د افغان سولې په تړاو د بین‌الافغاني خبرو د پیل په موخه که څه هم د افغان حکومت او طالبانو په دریځونو کې خورا توپیر لیدل کېږي؛ خو اړتیا ده چې دواړه لوري د سولې روانې خبرې یو تاریخي چانس وګڼي او له دغه چانس څخه د څلوېښت کلنې جګړې ختمولو او د هېواد د ثبات او ښه راتلونکي په موخه ګټه واخلي.

افغان حکومت او طالبان له افغانستانه د شوري اتحاد له وتلو وروسته د رامنځته شوي وضعیت یوه ډېره ښه تجربه لري، همدې تجربې ته په کتلو سره نه ښایي چې د سولې رامنځته شوی چانس د قدرت‌طلبۍ د خواهشاتو قرباني شي. په روانو حالتو کې د اوسني حکومت د بقا پر ځای ښه ده، چې د راتلونکي لپاره په افغانستان کې د یوه تلپاتې نظام د رامنځته کولو پر څرنګوالي انرژي مصرف شي او ښکېل افغان اړخونه داسې مسؤولانه چلند وکړي، چې د هېواد او ملت په خیر وي.

پوښتنه دا ده، چې دا چاره څنګه شونې ده؟ په لومړي سر کې اړتیا ده، لکه څنګه چې امریکا او د سیمې هېوادونو د امریکا ـ طالبانو د خبرو د پیل او بریا په موخه هڅې کولې، داسې د بین‌الافغاني خبرو د بریا په موخه هم رښتینې هڅې او همکاري وکړي.

له بله اړخه د بین‌الافغاني خبرو اترو د ښه پرمختګ په موخه اړتیا ده، چې هم طالبان او هم افغان حکومت انعطاف او په دریځونو کې تنازل ولري. طالبانو او افغان حکومت ته په کار ده، چې د یوې ولس‌محوره سولې د راتګ په موخه رښتینې او ګړندي ګامونه واخلي.

له دې ټولو سره سره، ښه ده چې د امریکا ـ طالبانو له خبرو وروسته د نړیوالو تر څارنې لاندې د افغان حکومت، مختلفو افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو او طالبانو ترمنځ درې اړخیزې خبرې اترې پیل شي او نړیوال د دغو خبرو د بریا لپاره صادقانه هڅې وکړي، ترڅو راتلونکی نظام د ټولو افغاني اړخونو مشترک او ګډ نظام جوړ شي.

پای

# نگاهی به وضعیت زنده‌گی مردم در افغانستان



وضعیت وخیم امنیتی، جنگ جاری و حوادث طبیعی در کشور باعث شده که زنده‌گی مردم افغانستان را با انواع مشکلات همراه سازد. فقر و بی‌کاری نیز از جمله پیامدهای بی‌ثباتی‌های سیاسی و امنیتی چهار دهۀ اخیر در افغانستان می‌باشد که در حال حاضر نظر به هر وقت دیگر میزان آن بالا رفته است.

بر بنیاد جدیدترین گزارش ادارۀ احصائیۀ مرکزی افغانستان ۵۱.۷ درصد مردم افغانستان در فقر همه‌جانبه به سر می‌برند. این اداره هفتۀ گذشته (۱۱ حمل ۱۳۹۸هـ ش) نتایج گزارشی را که به همکاری بانک جهانی، پوهنتون آکسفورد و صندوق حمایت از اطفال سازمان ملل متحد، در رابطه به وضعیت زنده‌گی مردم افغانستان تهیه نموده بود، به نشر رساند.

در این گزارش گفته شده که میزان فقر در شهرهای افغانستان ۱۸ درصد و در روستاها ٦١ درصد می‌باشد. همچنان میزان فقر میان کوچی‌ها ۸۹ درصد گفته شده است. در کل میزان فقر چندبُعدی در ولایت کابل ۱۵ درصد ـ که پایین‌ترین رقم است ـ اما بلندترین رقم آن در ولایت بادغیس است که به ۸۵ درصد می‌رسد.

وضعیت زنده‌گی مردم، میزان فقر و بی‌کاری و عوامل عمدۀ بلند رفتن میزان فقر و بی‌کاری در چند سال اخیر در افغانستان، از جمله مواردی اند که در این جا مورد بحث گرفته شده‌اند.

## زنده‌گی در افغانستان

افغانستان کشوری است محاط به خشکه و دارای اقتصاد ضعیف که بیشتر مردم آن مصروف زراعت اند و از محصولات زراعتی خویش نیازمندی‌های روزمرۀ زنده‌گی را تکافو می‌کنند؛ اما جنگ، نا امنی و حوادث طبیعی سکتور زراعت را نیز تحت سایۀ خود در آورده است.

بعد از تجاوز اتحاد شوروی بر افغانستان و ادامۀ حدود چهار دهه جنگ در کشور، در کنار اینکه میلیون‌ها افغان در این مدت کشته و زخمی شدند، میلیون‌ها افغان دیگر مجبور به ترک کشور خود شدند، سرمایه‌های خویش را از دست دادند، زمین‌های زراعتی که مردم در آن مصروف کار بودند به صحراها تبدیل شد و در کل، این وضعیت میزان فقر و بی‌کاری را در بین مردم افغانستان به شدت بیشتر ساخت.

در سال ۲۰۰۱م پس از تجاوز امریکا بر افغانستان و سقوط رژیم طالبان، نظام جدیدی در افغانستان تشکیل داده شد، با آنکه پس از تشکیل نظام جدید، میلیاردها دالر به افغانستان سرازیر شد و در برخی سکتورها پیشرفت‌هایی چشمگیری نیز صورت گرفت؛ اما در کل در طول ۱۸ سال گذشته کاری‌هایی در رابطه به بهبود وضعیت افغانستان صورت نگرفت که بتواند در رشد اقتصادی و اشتغال‌زایی دایمی برای مردم این کشور کمک کند.

از سوی هم، نظر به ارقام بانک جهانی در طول ۱۸ سال گذشته، میزان و فقر و بی‌کاری در افغانستان نظر به میزان فقر و بی‌کاری در جهان نه تنها که کاهش نیافته است، بلکه نظر به وضعیت زنده‌گی مردم، این پدیده رو به افزایش نیز بوده است.

## فقر چندبُعدی

آخرین گزارشی که ادارۀ مرکزی احصائیه در رابطه به فقر چندبُعدی در افغانستان نشر کرده است، نخستین گزارش شاخص فقر چندبُعدی می‌باشد که در ۱۸ گذشته نشر شده است. گزارش‌های که پیش از این در رابطه به فقر در افغانستان نشر شده، میزان فقر در آن با توجه به میزان درآمد مالی افراد جامعه بررسی می‌شد؛ اما این گزارش فقر را از ابعاد مختلف مورد بررسی قرار داده است و بر بنیاد یافته‌های این گزارش عوامل متعددی در افزایش فقر در افغانستان دخالت دارد.

در گزارش نشر شدۀ ادارۀ مرکزی احصائیه، زنده‌گی افغان‌ها در پنج بُعد (صحت، آموزش، معیارهای زنده‌گی، اشتغال و تأثیر امنیت بر زنده‌گی) و ۱۸ شاخص (مصونیت غذایی، ولادت به کمک افراد ماهر صحی، حضور در مکتب، تعلیم دختران، تعلیم پسران، دسترسی به آب، دسترسی به سیستم فاضلاب شهری، دسترسی به برق، دسترسی به مواد سوخت برای پخت‌وپز، مسکن، مالکیت دارایی و زراعت، وابستگی، بی‌کاری، کم‌کاری، شامل نشدن جوانان در کار، تحصیل و آموزش، تولید، عاید و امنیت) مورد بررسی قرار گرفته شده است.

بر بنیاد یافته‌های گزارش اخیر ادارۀ مرکزی احصائیه، بیش از نیمی از نفوس افغانستان با در نظر داشت شاخص‌های مذکور از نگاه فقر چندبُعدی، فقیر اند. همچنان یافته‌های این گزارش نشان می‌دهد که ۲۴ درصد نیروی کار افغانستان نیز بی‌کار اند. ۴۱.۳ درصد مردم از مواد سوخت جامدی استفاده می‌کنند که خطر مبتلا شدن به امراض تنفسی را در قبال دارد. همچنان در ۳۲.۲ درصد خانواده‌ها تنها یک فرد آن کار می‌کند و شش نفر به او وابسته می‌باشند.

در یافته‌های این گزارش همچنان گفته شده که در ۳۹.۱ درصد از خانواده‌ها یک کودکی که سن رفتن به مکتب را پوره کرده است، به مکتب نمی‌رود. ۴۷.۹ درصد خانواده‌ها هیچ زنی بزرگتر از سن ده سال، باسواد ندارند. از سوی هم، بربنیاد یافته‌های این گزارش ۲۴.۸ درصد مردم افغانستان، تکان‌های امنیتی را تجربه کرده‌اند که دوباره بهبود نیافته اند.

## عوامل وضعیت ناگوار زنده‌گی افغان‌ها

**جنگ:** ناامنی‌ها و ادامۀ جنگ در افغانستان یکی از عوامل مهمی به شمار می‌رود که زنده‌گی مردم این کشور را تحت سایه خود درآورده است و به دلیل آن افغانستان با بحران فقر و بی‌کاری مواجه است. در حال حاضر نزدیک به نیمی از خاک افغانستان تحت کنترول مخالفین مسلح دولت است، جغرافیای جنگ گسترش یافته، حملات هوایی و تلفات ملکی بگونۀ بی‌پیشینه افزایش یافته است؛ چنانچه تنها در سال ۲۰۱۸ م حدود ۱۰۹۹۳ فرد ملکی در جنگ افغانستان کشته و زخمی شده بودند. همچنان به دلیل جنگ و ناامنی ده‌ها هزار خانواده از سرزمین‌های اصلی شان بی‌جا شده‌اند،سرمایه‌ها و کاروبارهای خویش را از دست داده‌اند و اکنون در حالت بیجاشده‌گی در شرایطی ناگواری زنده‌گی خویش را به پیش می‌برند.

از سوی هم در وضعیت کنونی وخیم امنیتی و جنگ، علاوه از این که وضعیت مذکور باعث فرار سرمایه و سرمایه‌گذاران از افغانستان شده، راه مصرف بودجهٔ دست داشتهٔ وزارت‌خانه‌های دولت افغانستان را نیز مسدود ساخته است. به این ترتیب، عدم سرمایه‌گذاری در بخش‌های زیربنایی که قدرت جذب نیروی کار را دارند، افغانستان را با بحران بی‌کاری و فقر مواجه کرده است.

**حوادث طبیعی:** علاوه از جنگ حوادث طبیعی از قبیل خشک‌سالی، سیلاب‌ها و یا هم برف‌کوچ‌ها نیز باعث خسارات مالی و جانی به هزاران تن در افغانستان شده و یکی از عوامل افزایش میزان فقر و بی‌کاری در این کشور به شمار می‌رود.

در سال ۲۰۱۸م به دلیل خشک‌سالی در ۲۰ ولایت افغانستان نزدیک به دو میلیون فرد با نبود مواد خوراکی مواجه بودند و نیز به همین دلیل نزدیک به ۳۵۰ هزار افغان از سرزمین‌های شان آواره شده بودند. با آنکه در زمستان امسال افزایش بارنده‌گی‌ها در سراسر کشور نویدی از رفع خشک‌سالی را باخود داشت؛ ولی به دلیل ریزش برف و سرازیر شدن سیلاب‌ها، مردم متحمل خسارات مالی و جانی زیادی نیز شدند.

بر بنیاد آمار بخش هماهنگی کمک‌های بشردوستانه سازمان ملل (OCHA) در اوایل ماه اپریل ۲۰۱۹م به اثر جاری شدن سیلاب‌ها در شمال افغانستان حدود ۸۰ نفر کشته و نزدیک به ۴۲هزار نفر آواره شدند. همچنان در اوایل ماه مارچ سال جاری میلادی مردم ولایت‌های جنوب کشور به دلیل جاری شدن سیلاب‌ها خسارات مالی و جانی را متحمل شدند و بر بنیاد آمار وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی در آن ۵۰ تن کشته و ۱۴۰ تن دیگر زخمی شدند. در این سیلاب‌ها ۹۲۶ خانه بگونهٔ کامل از بین رفت و حدود دو هزار خانهٔ دیگر قسما تخریب شده بود.

**بی‌ثباتی سیاسی:** بی‌ثباتی سیاسی و ادامهٔ اختلافات داخلی در میان سیاستمداران و دولت‌مردان افغانستان، باعث شده که به مشکلات مردم رسیده‌گی درست صورت نگیرد و برای مبارزه با فقر و بی‌کاری برنامه‌های عملی روی دست گرفته نشود. این وضعیت زمینه گسترش فساد اداری و ضعف مدیریتی در نهادهای مختلف حکومت را مساعد ساخته است. همچنان باعث شده که دولت افغانستان نتواند استفادهٔ درست از امکانات دست داشته خود نماید.

## نتیجه‌گیری

با در نظر داشت موقعیت جغرافیایی افغانستان این کشور دارای منابع فراوان طبیعی و ظرفیت‌ها و فرصت‌های بالقوه زیادی است که می‌تواند از آن با اتخاذ تدابیر عملی، پالیسی های جامع و مطلوب و همچنان برنامه های ایجاد اشتغال‌زایی درازمدت، در رابطه به کاهش میزان فقر و بی‌کاری استفاده نمود.

از سوی هم، تغیر مثبت در زنده‌گی مردم و مهیا شدن زمینهٔ کار با توسعهٔ صنعت رابطهٔ مستقیم دارد. صنعت به عنوان محور اصلی اقتصاد کشورها نام برده می‌شود و این سکتور در رشد اقتصادی و کاهش میزان بی‌کاری و فقر نقش مهم دارد؛ اما تاکنون حکومت افغانستان در این زمینه دست‌آوردی چشمگیر ندارد و تداوم جنگ یکی از عوامل مهمی این وضعیت پنداشته می‌شود.

در طول ۱۸ سال گذشته تداوم جنگ باعث شده که توجه دولت افغانستان به میدان جنگ بیشتر باشد و جنگ مانع پیشرفت اقتصادی در افغانستان شده است. با در نظر داشت این وضعیت می‌توان گفت که مبارزه با معضل بی‌کاری و فقر در کشور مانند هر برنامهٔ دیگر نیاز به تامین صلح در کشور نیز دارد. یعنی تا زمانی که مردم افغانستان به یک صلح واقعبینانه نرسند و دارای یک نظام مرکزی حاکم نباشند، چالش‌های اقتصادی نیز، بیشتر از این خواهد شد.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** 202564049 (۹۳+) - ۷۸۴۰۸۹۵۹۰ (۹۳+)

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (۹۳+) ۷64747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (۹۳+) ۷84249421 ahmadshahr786@gmail.com